اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته وموندله

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: مونږ یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه یو سړی را ښکاره شو، سپینې جامې یې پر تن وې، تک تور ویښتان یې و، د سفر کومه نښه پرې نه ښکاریده او له مونږ څخه هیڅا هم نه پېژانده، تر دې چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - ته کښناست، نو خپل زنګنونه یې د هغه زنګنونو ته ورتکیه کړل او لاسونه یې پر ورنونو ورکښودل، او ورته یې وویل: اې محمده! ماته د اسلام په اړه خبر راکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «اسلام: دا دی چې ګواهي ورکړې پردې چې له الله پرته بل معبود نشته او پر دې چې محمد - صلی الله علیه و سلم - د الله رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې -که د رسېدو لاره دې ورته وموندله»-. ویې ویل: "ته رښتیا وایي". نو مونږ حیران شو چې هم پوښتنه کوي او هم یې تصدیقوي، (بیا یې) وویل: ما ته د ایمان په اړه خبر راکړه" هغه وویل: " دا چې په الله، د هغه په ملایکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو او د آخرت په ورځ ایمان راوړې، او د خیر او شر په تقدیر باور ولرې؛ " هغه وویل: "رښتیا دې وویل". ویې فرمایيل: "د احسان په اړه خبر راکړه ." هغه وویل: "دا چې د الله تعالی عبادت پداسې توګه وکړې لکه چې ته هغه وینې، خو که چېرته یې ته نه وینې نو هغه خو تا وینې". ویې ویيل: ماته د قیامت په اړه خبر راکړه، ویې فرمایل: پوښتل شوی له پوښتونکي څخه ډېر پوه ندی، هغه وویل: له نښانو څخه یې خبر راکړه". ویې ویيل: "دا چې وینځه خپل بادار وزیږوي، او دا چې ته وګورې چې پښې ابله (لوڅ پښې)، بربنډ ، محتاج ، شپانه یو له بل څخه په ابادیو کې وړاندیوالی کوي". بیا هغه روان شو، نو ما یو څه وخت انتظار وکړ، بیا یې وویل: "اې عمره! آیا ته پوهیږې چې پوښتونکی څوک و؟، ما ووېل: الله او د هغه رسول ښه پوهیږي، ویې فرمایيل: دا جبریل و، هغه تاسو ته راغلی و تر څو مو دین دروښایي.«

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

عمر بن الخطاب رضي الله عنه فرمايي چې جبرائيل عليه السلام صحابه كرامو ته د يو نا پېژندل شوي سړي په شكل ورغى، هغه پداسې بڼه و چې جامې يې تكې سپينې وې او ويښتان يې تک تور و، د سفر كومې نښې پرې نه ښكاريدې لكه ستړتيا، دوړې، ګډوډ ويښتان، د كاليو خبرنوالى، او په حاضرو كسانو كې هيڅا نه پېژانده، حال دا چې دوى ټول د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، نو هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حضور كې د يوه زده كوونكي په بڼه كښناست او د اسلام په اړه يې تري پوښتنه وكړه، نو هغه د اسلام پدې اركانو سره ځواب ورکړ چې په دوو شهادتينو اقرار، پنځه وخته لمونځونو ادا كولو، مستحقو كسانو ته زكات وركولو، د رمضان مياشتې روژې نيولو او پر توانمند د حج ادا كولو ته شامل و. پوښتونكي وويل: رښتيا دې وويل، نو صحابه كرام د هغه له پوښتنې كولو څخه حيران شول چې د هغه ناپوهي يې ښودله او بيا يې بيرته - ځواب ـ تصديقاوه. بيا يې تري د ايمان په اړه پوښتنه وكړه، نو هغه د ايمان پدې اركانو سره ځواب وركړ چې د الله تعالى په وجود او د هغه پر صفاتو ايمان، هغه لره د هغه په افعالو كې په يووالي ايمان لكه: پيدا كول، هغه لره په عبادت سره يو ګڼل، او دا چې ملائكې الله جل جلاله له رڼا څخه پيدا كړي دي او هغو د - الله تعالى - عزتمند بندګان دي چې د الله پاک د حكم نافرماني نه كوي، د هغه امر پر ځاى كوي، او د هغه پر كتابونو ايمان چې د هغه لخوا پر رسولانو نازل شوي دي لكه: قرآن، تورات، انجيل او نور، او په هغو پيغمبرانو ايمان چې د هغه له طرفه يې دين خلكو ته رسوي، د هغوى له جملې څخه

نوح، ابراهيم، موسى، عيسى او نور پيغمبران عليهم السلام دي چې وروستى يې محمد صلى الله عليه وسلم دى، او د آخرت په ورځ ايمان، چې له مرګ نه وروسته قبر او برزخي ژوند ته شاملیږي، او دا چې انسان له مرګ نه وروسته ژوندى کيږي او حساب ورسره کيږي، او دا چې برخليک به يې جنت او يا دوزخ وي، او پر دې ايمان چې الله تعالى د خپل مخکيني علم، حکمت او ليکنې پر بنياد ټول شيان اندازه کړي دي، او دا چې دا هر څه د هغه د خوښې او تقدير سره سم کيږي او دا چې دا هر څه يې د کومې موخې لپاره پيدا کړي دي. بيا يې ترې د احسان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه خبر ورکړ چې احسان دې ته وايې چې پداسې توګه د الله تعالى عبادت وکړي لکه چې الله وينې، خو که چېرته ورته دې مرتبې ته رسېدل ناشوني وي، نو بيا دې د الله تعالى داسې عبادت وکړي لکه چې الله يې وينې، نو لومړۍ د لېدو مرتبه ده چې تر ټولو لوړه ده او دويمه د څار مرتبه. بيا يې ترې پوښتنه وکړه چې قيامت کله دى؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته بيان کړه چې د قيامت په اړه پوهې باندې الله تعالى ځان ځانګړى کړى دى، نو د هغه له مخلوقاتو څخه پرې هېڅوک نه پوهيږي، نه پوښتل شوى او نه پوښتونکى. بيا يې ترې د قيامت د نښانو په اړه پوښتنه وکړه؟ نو ورته يې واضحه کړه چې له نښانو څخه يې د وينځو زياتوالى او د هغوى د اولادونو زيږون دى، او يا د اولادونو لخوا د مورګانو نافرماني، چې لکه د وينځو په څېر رويه به ورسره کوي او دا چې د مېږو په شپنو او غريبانو باندې به په وروستۍ زمانه کې د مال دومره پراخي راشي چې د ودانيو په سينګار او جوړولو کې به يو پر بل وياړي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکړ چې سوال کوونکى جبرائيل عليه السلام و او د دې لپاره راغلى و چې صحابه کرامو ته حقيقي دين ورزده کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4563